# رسمی جریده

## دپولیسو د تادیب مقررات

## مقررات تادیب پولیس

دوهمه گنه

پرله پسی لمبر (۲۶۹)

تاریخ: شنبه د۱۳۵۳ کال دوری دمیاشتی (۳۱)

# دگلهون بیه

| | |
|---|---|
| په کابل کښی | (۲۲۰) افغانی |
| په ولایاتو کښی | (۲٤۰) افغانی |
| دپو هنی شاگردانوته | نیمه بیه |
| په باندنیو هیوادو کښی | (۱۰) امریکائی دالره |

ددی گڼی بیه :(۲۰) افغا نی

رسمی جریده

د افغانستان د جمهوری دولت رسمی خپرونه


## دعظمی صدارت د۱۳۵۳ کال دوری دمیاشتی داتلسمی نیټی (۶۳) گڼه فرمان

**ښاغلی داکتر عبدالمجید عدلیه‌وزیر!**

دوزیرانو مجلس د۱۳۵۳ کال دوری دمیا شتی د ۱۳ نیټی په غو نډه کی په خپله (۴۲۷) گڼه فیصله کی دکو رنیو چارو دوزارت د ۱۳۵۳کال دوری دمیاشتی د۱۳ نیټی عرض‌پاڼی ته‌په کتنه دپو لیس دتادیب دمقرراتو په هکله لاندی مراتب تصویب کړل:

«د پولیسو دتادیب مقررات په څلور څلویښت مادو کښی دننه چه ددارالانشاء مهر پری لگیدلی دی‌په تجربوی ډول دیو کال لپاره منظور دی .»

دوزیرانو دعالی مجلس د تصویب مراتب چه د افغانستان د جمهوری دولت درئیس دحضور دمنظو ری په شرف رسیدلی اود ۱۳۵۳کال دوری دمیاشتی دخوارلسمی نیټی‌په (۳۴) گڼه کښی ثبت شویدی تاسی ته خبر درکړ شو تر څو په رسمی جریده کښی دهغه دخپریدو په‌هکله اقدام وشی .

**داکتر محمد حسن شرق**

## فرمان شماره (۶۳) مورخه ۱۸ حمل ۱۳۵۳ صدارت عظمی

**ښاغلی دو کتور عبدا لمجید وزیر عدلیه !**

مجلس وزراء تحت فیصله شماره (۴۲۷) در جلسه تاریخی ۱۳ر۱ر ۱۳۵۳ باملاحظه ورقه عرض مورخ ۱۳ر ۱ر ۱۳۵۳ وزا رت دا خله راجع به مقررات تادیب پولیس مراتب آتی را تصویب نمود.

(مقررات تادیب پولیس بداخل چهل وچهار ماده که بمهر دارالا نشاء رسیده‌برای یکسال‌بصورت تجربوی منظور است .)

مراتب تصویب مجلس عالی‌وزراء که به شرف منظوری حضور رئیس دولت جمهوری‌افغانستان رسیده و بشماره ۳۴ مورخه ۱۴ر۱ ۱۳۵۳ ثبت گردیده بشما اطلاع داده شدتا درنشر آن به‌جریده ر سمی اقدام گردد .

**(داکتر محمد حسن شرق).**

# دپولیسو دتادیب مقررات

## لمړی فصل

### عمومی احکام

**لمړی ماده :**

دغه مقررات په پولیس پوری مربوط تخلفات او مویدات اودهغو طرزالعمل دافغانستان دجمهوری دولت په ساحه کی تنظیموی .

**دوهمه ماده :**

ددغو مقرراتو په مقصد دپولیس اصطلاح په لاندنیواشخاصواتلاقیږی، مگر داچه په دغو مقرراتو کښی په چا باندی حکم په خاص ډول سره څرگند شوی‌وی .

١ ـ پولیس اوژاندارم (سرحدی پولیس) .

٢ـ همردیفان .

٣ـ دپولیسو دتعلیمی موسسو زده کړی .

٤ـ ساتونکی .

٥ـ ټول هغه اشخاص‌چه دپولیسو داختصاصی قوانینو داحکامو تابع وی .

**دریمه ماده :**

که چیری پولیس له افغانستان نه دباندی دداسی سرغړونی مرتکب شی چه په‌دی مقرراتو کښی شامل

# مقررات تادیب‌پولیس

## فصل اول

### احکام عمومی

**ماده اول :**

این مقررات امورمربوط‌به تخلفات ومویدات تادیبی پولیس وطرز العمل آنرا در ساحه دولت جمهوریت افغانستان تنظیم مینماید .

**ماده دوم :**

اصطلاح پو لیس بمقصد این مقررات باشخاص آتی اتلاق‌میگردد. مگرآنکه حکم دراین مقررات‌به‌یکی‌از اشخاص طور خاص تصریح یافته باشد :

١ ـ پولیس و ژاندارم (پولیس سرحدی)

٢ ـهمردیفان .

٣ـ محصلان موسسات تعلیمی پولیس .

٤ـ ساتونکی .

٥ـ سایر اشخا صیکه تابع احکام قوانین اختصا صی‌پولیس میباشد.

**ماده سوم :**

هرگاه پولیس‌در خارج افغانستان مرتکب چنان تخلفی گردد که مشمول این مقررات باشد بارعایت احکام

وی، ددی مقرراتو دمندرجو احکامو په‌رعایت کولو سره تادیبیږی .

**څلورمه ماده**

په دغو مقرراتو کښې مندرج تادیبی مقررات چه دور سپارل شوی صلاحیت سره‌سم پرځای کیږی واجب التنفید دی، مگر په هغو مواردو کی چه پدی مقرراتو کی پری استیناف پیشبینی شوی وی .

**پنځمه ماده**

د تادیبی مویداتو اهداف عبارت دی له :

۱ـ د پولیسو په قوا کښې دنظم او سالم انضباط پوره کول .

۲ـ دورسپارل شویو و ظیفو ته دپولیسو دوظیفه والو متوجه‌کول.

۳ـ په‌هغو مواردو کښې دمتخلفینو تنبیه چه‌له‌اداری‌اوامرو اودستورونو څخه تیری کول دکار نظم اوسلامت گډوډ کاندی .

**شپږمه ماده**

هغه و ظیفوی تخلفات چه د قانون دحکم سره‌سم جرم‌وگڼل شی‌دجزایی قوانینو داحکامو تابع دی .

## دوهم فصل

## و ظیفوی تخلفات

**اومه ماده**

هغه تخلفات چه‌د وظیفی د

مندرج این مقررات تادیب میگردد.

**ماده چهارم :**

مویدات‌تادیبی‌مندرج این مقررات که‌برحسب صلاحیت مفوضه تطبیق میگردد واجب التنفید میباشد مگر در موارد یکه استیناف برآن درین مقررات پیشبینی شده باشد .

**ماده پنجم :**

اهداف مویدات تادیبی عبارت‌است از :

۱ـ تامین نظم وانضباط سالم در قوای پولیس .

۲ـ متوجه‌ساختن موظفین پولیس بوظایف محوله .

۳ـ تنبیه متخلفین در موارد یکه از رهگذر تخطی آنها از اوامر و دساتیر اداری نظم وسلامت‌کار مختل شود .

**ماده ششم :**

تخلفات وظیفوی که مطابق به‌حکم قانون جرم پنداشته شود‌تابع احکام قوانین جزائی میباشد .

## فصل دوم

## تخلفات وظیفوی

**ماده هفتم :**

تخلفاتیکه ناشی از اجرای وظیفه

پرځای کولو څخه راولاړ شوی وی او یا دوظیفی داجراله کبله منځ ته راغلی وی، و ظیفوی تخلفات گڼل کیږی .

**اتمه ماده**

دپولیسو وظیفوی تخلفات مشتمل دی پر :

الف ـ د مربوطو چارو په تنظیم کښی پاکی ته عدم اعتنا.

۱ـ دکار پرځای کښی دپاکی نه مراعات کول .

۲ـ دپولیسو په لوازمو اومالزمی کښی دپاکی او نظم نه مراعات کول .

۳ـ د جامو په تعلیمنامه کښی د مندرجو هدایاتو نه مراعات کول .

٤ـ دلاس لاندی همکارانو په هکله دپورتنیو فقرودمندرجو مراتبو څارنه کول.

ب ـ اهانت آمیز او خشن سلوك:

۱ـ دلاس لاندی همکارانو سره اهانت آمیزه خشونت .

۲ـ د مراجعینو په مقابل کښی دراپاروونکو کلماتو استعمال.

۳ـ دلاس لاندی همکارانو پەمقابل کښی دراپاروونکوکلماتو استعمال .

٤ ـ د آمرینو سره په مستعارنوم مخابره کول .

بوده یا بعلت اجرای آن بعمل آمده باشد تخلفات وظیفوی پنداشته می شود .

**ماده هشتم :**

تخلفات وظیفوی پولیس مشتمل است بر :

الف ـ عدم اعتنا به نظافت در تنظیم امور مربوطه .

۱ـ عدم رعایت نظافت در محل کار .

۲ـ عدم رعایت نظافت ونظم در حفظ لوازم ومالزمه پولیس .

۳ـ عدم رعایت هدایات مندرج تعلیمنامه استعمال البسه .

٤ـ عدم مراقبت از رعایت مراتب مندرج فقرات فوق الذکر در مورد همکاران تحت اثر .

ب ـ روش اهانت امیز وخشن:

۱ـ خشونت اهانت آمیزدر برابر همکاران تحت اثر.

۲ـ استعمال کلمات مستهجن در برابر مراجعین .

۳ـ استعمال کلمات مستهجن در برابر همکاران تحت اثر .

٤ـ باسم مستعاربا آمرین مخابره نمودن .

# رسمی جریده

ج ـ د وظیفی په پر ځان کولو کی غفلت .

۱ ـ د هغو چارو په اجراء کی تعلل چه رسما دهغو په اجراء مکلف وی .

۲ـ دموجه عذر نه پرته دوظیفی په اجراء کی اهمال .

۳ ـ د وظیفی د اجراء په ترڅ کی لټی یا مساهله .

٤ ـ د هغی وظیفی په اجراء کی اهمال چه د قانون له مخی‌دهغی په تعمیل مکلف وی .

٥ ـ د دولت د باقیالو په تحصیل کی اهمال .

٦ ـ د محکمو د قطعی فیصلو په تعمیل کی اهمال .

۷ـ دحاضر ولو اورا غوښتنی په‌بنا داامرونو په تعمیل کی اهمال.

۸ـ دوظیفوی‌تخلفاتو په څارنه‌کی اهمال .

۹ ـ دپولیسو د وسایطو ـمالزمی او تجهیزاتو دساتلو په برخه کښی د لازمو احتیاطی تدابیرو نه مراعات کول .

د ـ وظیفی ته‌عدم پابندی .

۱ـ دواکمن آمر له امر او د موجه عذر نه پرته دو ظیفی پریښودل .

۲ ـ کارته ناوخته شروع کول .

ج ـ غفلت در اجرای وظیفه .

۱ـ تعلل در اجرای امور یکه رسما با جرای آن مکلف میباشد .

۲ـ اهمال در اجرای وظیفه بدون عذر مو جه .

۳ـ تنبلی یا مسا هله درحین اجرای وظیفه .

٤ـ اهمال در اجرای وظیفه ایکه قانونا به تعمیل آن مکلف می باشد .

٥ـ اهمال در تحصیل باقیات دولت .

٦ـ اهمال در تعمیل احکام قطعی محاکم .

۷ـ اهمال درتعمیل اوامر مبنی بر جلب واحضار .

۸ـ اهمال در رسید گی به تخلفات وظیفوی .

۹ـ عدم رعایت تدابیر احتیا طی لازم درقسمت نگهداشت وسا یط مالزمه وتجهیزات پولیس .

د ـ عدم پابندی بوظیفه .

۱ـ ترك وظیفه بدون امر آمر با صلاحیت وعذر مو جه .

۲ـ ناوقت بکار آغاز کردن .

٣ ــ له وظیفی نه د تیښتی په مقصد تمارض او تعلل کول .

هـ ــ د امر او لار ښوونو نه منل.

١ ــ په عمل کی یا په لفظ یا په اشاره بی اطاعتی .

٢ــ ددولتی دایرو سره مر سته نه کول .

٣ ــ د آمریت د سلسله‌مراتبو مراعات نه کول .

وــ له وظیفوی صلاحیت، ما لز می، وسایطو او تجهیزاتو څخه ناوړه استفاده .

١ــ دشخصی چارو په اجراء کی د پولیسو د قوا استخدام .

٢ ــ د لاس‌لاندی همکارانو څخه پور اخستل او د سوغاتونو او تحفو منل .

٣ ــ په‌شخصی چارو کی دپولیسو د حمل او نقل رسمی وسیلی ، وسایطو ، مالزمی اوتجهیزاتوڅخه ناوړه استفاده .

زــ داسرارو ښکاره کول .

١ ــ د هغو مواردونه پرته چه قانون او مقررات حکم کوی د وظیفوی اسرارو ښکاره کول .

٢ــ دهغو موارد و ونه پر ته چه قانون، مقررات، تعلیمات اووظیفوی دساتیر حکم کوی مطبو عاتو ته د اطلاعاتو څرگند ول .

٣ــ تمارض وتعلل بمقصد گریز از وظیفه .

هـ بی اطاعتی به‌امرو هدا یات

١ــ بی اطاعتی درعمل یا لفظی یابه اشاره .

٢ــ عدم تامین همکاری با ادارات دولتی .

٣ــ عدم رعایت سلسله مراتب آمریت .

وــ سوء استفاده از صلا حیت، مالزمه ،وسایط وتجهیزات وظیفو ی

١ــ استخدام قوای پولیس در اجرای امور شخصی .

٢ــ قرض گرفتن وقبولی تحایف وهدا یااز همکاران تحت اثـر .

٣ــ استفاده سوء از وسیله حمل ونقل ،وسایط ،مالزمه وتجهیزا ت رسمی پولیس در امور شخصی .

زــ افشای اسرار .

١ــ افشای اسرار وظیفوی درغیر از مواردی که قانون ومقررا تحکم مینماید .

٢ــ افشای اطلاعات به مطبو عات درغیر ازمواردیکه قانون، مقررات، تعلیمات ودسا تیر وظیفوی حکم می نماید .

۳ ــ په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د تورنو خبرول چه د هغوی په خلاف د پولیسو قانونی اقدامات دلاس پوری کولو په حال کی دی.

ح ــ د بیطرفی د وجیبی نه رعایت.

۱ ــ دمذهبی عقیدو په مقابل

۲ ــ د سیاسی ملحوظاتو په مقابل کی.

۳ ــ د اجتماعی موقف په مقابل

ط ــ د پولیس او ژاندارم د قانون لاندنیو موادو نه مراعات کول

۱ ــ دپولیس او ژاندارم دقانون نهمه ماده دابلاغ او اخطار په بنا.

۲ ــ د پولیس او ژاندارم دقانون لسمه ماده د درولو او د هویت د تثبیت په بنا.

۳ ــ د پولیس اوژاندارم دقانون یوولسمه ماده دځای د پریښودلو په بنا.

٤ ــ د پولیس او ژاندارم د قانون دولسمه ماده دراغوښتلو اوحاضرولو په بنا.

۳ ــ مطلع گردانیدن مستقیم یا غیر مستقیم متهمین که اقدامات قانونی پولیس علیه آنها در حال اتخاذ است.

ح ــ عدم رعایت وجیبه بیطرفی.

۱ ــ دربرابر عقاید مذهبی.

۲ ــ در برابر ملحوظات سیاسی.

۳ ــ در برابر موقف اجتماعی.

ط ــ عدم رعایت شرایط مندرج مواد آتی قانون پولیس وژاندارم.

۱ ــ ماده نهم قانون پولیس وژاندارم مبنی بر ابلاغ واخطار.

۲ ــ ماده دهم قانون پولیس و ژاندارم مبنی بر توقف دادن و تثبیت هویت.

۳ ــ ماده یازدهم قانون پولیس و ژاندارم مبنی بر تکلیف به ترک موضع.

٤ ــ ماده دوازدهم قانون پولیس وژاندارم مبنی بر جلب او حضار

**نهمه ماده :**

پولیس دقانونی وجایبو د عدم رعایت او د وظیفوی مقرراتو، تعلیماتنامو، اداری دساتیرو او د آمرینو له شفوی او تحریری هدایاتو نه د سر غړولو په صورت کی د

**ماده نهم :**

پولیس در صورت عدم رعایت وجایب قانونی وتخطی ازمکلفیت های وظیفوی ابشکل عمدی یا اهمالی از مقررات، تعلیمات نامه ها دساتیر اداری وهدایات شفوی یاتحریری

# جرم رهی

دی مقرراتو د احکامو سره سم تادیبیږی . همدارنگه دهغه حرکت او کمښت نه د ځان‌ساتلو د وجیبې نه مراعات کول چه‌مسلکی شئوناتو او خپل یا د پولیسو د منسو بینو حیثیت ته زیان اړ وی ، د تادیب مستوجب دی .

**لسمه ماده :**

په پولیس ـ همردیف ـ دتعلیمی موسسو زده کوونکو ، ساتو نکو او نورو هغو کسانو چه د پولیسو د اختصا صی قوانینو د احکاموتابع دی دتطبیق وړ تا دیبی مویدات‌عبارت دی له .

الف ـ په‌پولیس اوهمردیف د تطبیق وړ تادیبی مویدات :

۱ ـ توصیه .

۲ ـ لیکلی اخطار .

۳ ـ لیکلی توبیخ .

٤ ـ د پولیس او ژاندا رم د استخدام ، ترفیع او تقاعد دقانون د ۹۲ مادی د تابع جدول د مندرج حکم سره سم کسر معا ش .

٥ ـ دپولیس اوژاندارم داستخدام، ترفیع او تقاعد دقانون د۲۹ ما دی دتابع جدول دمندرج حکم سره سم په قطعاتو کی تادیبی حبس .

٦ ـ تادیبی تبدیلی .

۷ ـ د قدم تنقیص .

آمرین مطابق به‌احکام این مقررا ت تادیب میگر دد. همچنان عدم رعایت وجیبه خودداری ازحرکت وکوتاهی که به شئونا ت‌مسلکی وحیثیت خود یا منسو بین پولیس لطمه وارد می کند مستوجب تادیب می باشد .

**ماده دهم :**

مویدات تادیبی قابل تطبیق بر پولیس ،همردیف،محصلان موسسات تعلیمی، ساتونکی‌وسایر اشخاصیکه تابع احکام قوانین‌اختصاصی پولیس می باشند .عبارت انداز :

الف ـمویدات تادیبی‌قابل تطبیق بر پولیس وهمر دیف .

۱ـ توصیه .

۲ـ اخطار تحریری .

۳ـ توبیخ تحریری .

٤ـ کسر معاش مطابق به حکم مندرج جدول تابع ماده ۹۲ قانو ن استخدام، ترفیع وتقاعد پو لیس‌و ژاندارم .

٥ـ حبس تادیبی در قطعات مطابق به حکم مندرج جدول تابع ماده ۹۲ قانون استخدام، تر فیع وتقاعد پولیس وژاندا رم.

٦ـ تبدیلی تادیبی .

۷ـ تنقیص قد م.

۸ ـ د ترفیع د یوې دورې ځنډول (معاش) .

۹ـ دترفیع دیوې دورې ځنډو ل (رتبه) .

۱۰ـ تر شپږ میاشتو پورې د ملازمت تعطیل .

۱۱ ـ یوه رتبه تنزیل .

۱۲ـ د تقاعدله حقوقو څخه د محرومیت نه پرته د پولیسو د مسلك نه عزل .

ب ـ په سا تونکو اود پولیسو د موسساتو په زده کوونکو او نورو هغو اشخاصو چه د پولیسو د اختصاصی قوانینو د حکمو نو تابع وی د تطبیق وړ مویدات .

۱ـ د پولیسو او ژاندارم د استخدام ، ترفیع او تقاعد د قانون د ۹۲ مادی د تابع جدول د مندرج حکم سره سم له خدمت څخه د غیابت په صورت کې د شاقه خدمت تطبیق .

۲ـ دپولیسو او ژاندارم د استخدام ، ترفیع او تقاعد د قانون د۹۲مادی د تابع جدول د مندرج حکم سره سم په‌قطعاتو کې دتادیبی حبس تطبیق .

**یولسمه ماده :**

لاندې مراتب د تادیبی مؤیدا تو په تطبیق کې مراعات کیږی .

۱ـ ددغو مقرراتو د لسمی مادی

۸ـ التوای یکدوره ترفیع (معاش )

۹ـ التوای یکدوره ترفیع (رتبه )

۱۰ـ تعطیل ملازمت الی ششماه.

۱۱ـ تنزیل یك رتبه .

۱۲ـ عزل از مسلك پولیس بدون محرومیت از حقوق تقاعد .

ب ـ مویدات تادیبی قابل تطبیق بر سا تونکی ومحصلان موسسات تعلیمی پولیس وسایر اشخاصیکه تابع احکام قوانین اختصاصی پولیس میباشند .

۱ـ تطبیق خدمات شاقه‌درصورت غیابت از خدمت مطابق به حکم مندرج جدول تابع ماده ۹۲ قانون استخدام، ترفیع وتقاعد پولیس و ژاندارم .

۲ـ حبس تادیبی در قطعات مطابق به حکم مندرج جدول ماده ۹۲قانون استخدام ،ترفیع وتقاعد پولیس وژاندار م.

**ماده یازدهم :**

مراتب آتی در تطبیق مویدات تادیبی رعایت میگردد .

۱ـ مویده مندرج حکم جز ٤فقره

د الف د فقری د شلورم جزء د حکم مندرجه مؤیده د پولیس او ژاندارم د استخدام ، ترفیع او تقاعد دقانون د اتمی مادی د مندرج حکم د شلورم ردیف پر اشخاصو نه‌تطبیقیږی .

۲ـ ددغو مقرراتو دلسمی مادی د الف د فقری د پنځم جزء مندرجه مؤیده د پولیس او ژاندارم د استخدام ، ترفیع او تقاعد دقانون داتمی‌مادی دحکم‌دلمړی، دوهم‌اودریم ردیف په مندرجو اشخاصو نه پر ځای کیږی .

۲ـ ددغو مقرراتو د لسمی مادی دالف دفقری ددولسم جزء د مندرجی مؤیدی تطبیق ،په ملکی خدماتو کښی دشخص داستخدام‌مخه نه‌نیسی .

## دریم فصل

### دتادیبی مؤیدی په تطبیق کښی‌د رعایت وړ حالات :

### دولسمه ماده

لاندنی حالات دتادیبی مؤیدی په تطبیق کښی مشدده شمیرل کیږی

۱ـ په هغه حالت کښی چه سر غړو ونکی په یوه ټاکلی وخت کښی دزیات شمیر اعمالو دارتکاب له درکه دتادیب لاندی نیول شوی‌وی

۲ـ په هغه حالت کښی چه په‌سر غړو ونکی ادمخه دهمدغه تخلف په

الف ماده دهم‌این مقررات‌براشخاص مندرج ردیف چهارم مندرج حکم ماده(۸)قانون‌استخدام، ترفیع وتقاعد پولیس وژاندارم تطبیق نمیگردد .

۲ـ مویده مندرج‌جز(۵) فقره‌الف ماده دهم این مقررات بر اشخاص مندرج ردیف اول، دوم وسوم مندرج حکم ماده (۸) قانون استخدام، ترفیع وتقاعد پولیس وژاندارم تطبیق نمیگردد .

۳ـ تطبیق مویده مندرج جز (۱۲) فقره الف ماده دهم‌این مقررات‌مانع استخدا م‌شخص در خدمات ملکی دولت نمگیردد .

## فصل سوم

### حالات قابل رعایت در تطبیق مویده تادیبی

### ماده دوازدهم :

حالات آتی‌در تطبیق‌مویده تادیبی مشدده محسوب میگردد :

۱ـ در حالیکه متخلف از نا حیه ارتکاب اعمال متعدد در یك وقت معین تحت تادیب قرار گرفته باشد.

۲ـ در حالتی که بر متخلف قبلا از رهگذر عین تخلف مویده تا دیبی

سبب تادیبی مؤیده تطبیق شوی‌وی

۳ــ په هغه حالت کښې چه له وظیفې څخه سر غړول د داسې شرایطو لاندې صورت نیولی دی چه خطر یې عامه نظم او هوسا ینې ته‌مهم وګڼل شي .

٤ــ په هغه حالت کښې چه سر غړول دسفر، اضطرارا او داسې نورو واردو کښې پیښ شوی وی.

٥ــ په هغه‌حالت کښې چه‌دپولیس تخلف عامه اذهان مغشوش کاندی.

**دیار لسمه ماده**

لاندنی حالات دتادیبی مؤیدی په تطبیق کښې مخففه ګڼل کیږی .

۱ــ په هغه حالت کې چه‌متخلف دموجه عذر په آساس دسر غړولو مرتکب ګرځیدلی وی .

۲ــ په هغه حالت کښې‌چه‌متخلف دآمریت دتسلط او اقتدار تر تاثیر لاندی دتخلف مرتکب ګرځیدلی وی

۳ــ په‌هغه حالت کښې چه‌متخلف تر تهدید لاندی‌دتخلف مرتکب شوی وی .

که‌چیری ثابته شی چه‌تهدید شدید وی متخلف پدی صورت کښې‌دتادیب مستوجب نه ګڼل کیږی .

که چیری پولیس دآنی عقلی یا عصبی اختلال په‌اثر دتخلف مرتکب شی دمؤیدی‌له تطبیق څخه معاف‌دی

تطبیق شده باشد .

۳ــ در حالتی‌که تخلف از وظیفه تحت شرایطی صورت گرفته باشد که خطر آن برای نظم وآرامش عامه مهم تلقی گردد .

٤ــ در حالتی که تخلف در زمان سفر، اضطرار و موارد مماثل به وقوع پیوستهٔ باشد .

٥ــ در حالتی که تخلف پولیس اذهان عامه را مغشوش نماید .

**ماده سیزدهم :**

حالات آتی در تطبیق مویده تادیبی مخففه محسوب میگردد .

۱ــ در حالتیکه متخلف باساس عذر موجه مرتکب تخلف گردیده باشد

۲ــ در حالتی که متخلف تحت تاثیر تسلط واقتدار آمریت، مرتکب تخلف گردیده باشد .

۳ــ در حالتی که متخلف در اثر تهدید مرتکب تخلف گردیده باشد.

هرگاه ثابت شود که تهدید شدید بوده متخلف درچنین‌حالت مستوجب تا دیب پنداشته نمیشود .

هر گاه پولیس در اثر اختلال عقلی یا عصبی آنی مرتکب تخلف گردد از تطبیق مویده معاف میباشد

## خلورم فصل

### دتا دیبی مویداتو دتطبیق والکلرونکی اشخاص او مراجع

**څوارلسمه ماده**

دپولیس دتادیب داشخاصواومراجعو له خوا دهغه طرزالعمل سره سم صورت مومی چه‌په دی مقرراتو کښی تاکل شوی دی.

**پنځه لسمه ماده**

دتادیب په امر کښی واک لرونکی اشخاص:

ددغو مقرراتو دلسمی مادی دالف دفقری د(۱ـ ۲ـ ۳ـ ٤ـ او ٥)جزء دب دفقری دلمړی او دوهم جـزء د حکمونو مندرج مویدات دپولیس او ژاندارم داستخدام، ترفیع او تقاعد دقانون داتمی مادی دحکم دمند رجو مراتبو په رعایت سره دپو لیسو د آمرانو له صلاحیت څخه دی.

**شپاړسمه ماده**

د تادیب په امر کښی واکلرونکی مراجع :

ددغو مقرراتو دلسمی مادی‌دالف دفقری دشپږم، اوم، اتم، نهم، لسم، یوولسم او دوولسم جزءدحکم‌دمندرجو مؤیداتو تطبیق دتادیب دمجلس له‌صلاحیت څخه دی .

## فصل چهارم

### اشخاص ومراجع‌دارنده صلاحیت تطبیق مویدات تادیبی .

**ماده چهار دهم :**

تادیب پولیس ازطرف اشخاص ومراجع مطابق به‌طرز العملی صورت میگیرد که‌دراین مقررات‌تعین‌گردیده است.

**ماده پانزدهم :**

اشخاص‌با صلاحیت در امر تادیب .

تطبیق مویدات مندرج حکم جز ۱ـ۲ـ۳ـ٤ و٥فقره‌الف‌وحکم‌جز ۱و۲ فقره ب ماده د هم این مقررات از صلاحیت امر ان پولیس با رعایت مراتب مندرج حکم ماده ۸ قانون استخدام، ترفیع وتقاعد پو لیس و ژاندارم میباشد .

**ماده شانزد هم :**

مراجع با صلاحیت در امر تادیب

تطبیق مویدات مندرج حکم جز۶ ـ۷ـ۸ـ۹ـ۱۰ـ۱۱ـ۱۲ فقره ا لف ماده دهم این مقررات از صلا حیت مجلس تادیب میباشد .

اولسمه ماده

دتأدیب مجلس مرکب دی له:

۱ـ دسرحدی پولیسو عمومی آمر درئیس په حیث .

۲ـ دجنائی پولیسو عمومی آمر دغړی او لمړی نایب په حیث.

۳ـ دترافیك دپولیسو عمومی‌آمر دغړی اودوهم نایب په حیث .

٤ـ دپولیسو دتعلیمی مؤ سساتو عمومی آمر دغړی په حیث .

٥ ـ د لوژ ستیك عمومی آمـر د غړی په حیث .

٦ـ د محبسو نو او صنا عتــی عمومی آمر د غړی په حیث .

۷ ـ تخنیکی عمومی آمر د غــړی په حیث .

۸ ـ د پاسپورت عمومی آمـر د غړی په حیث .

۹ ـ د استخباراتو عمومی آمـر د غړی په حیث .

۱۰ ـ د مرکزی پیژند مدیـر د عضویت دصفت له در لـو دلو نـه پرته د تادیب د مجلس د منشــی په حیث .

اتلسمه ماده :

د تا دیب د مــجلس د تا دیبی مویداتو استینا فی غور د تادیـب عالی مجلس ته وړاندی کیږی .

ماده هفدهم :

مجلس تادیب مرکب است از :

۱ـ آمر عمومی پولیس سر حدی بحیث رئیس .

۲ـ آمر عمومی پولیس جنا ئـی بحیث عضو ونایب اول .

۳ـ آمر عمومی پولیس ترا فیـك بحیث عضو ونایب دوم .

٤ـ آمر عمومی مو سسات تعلیمی پولیس بحیث عضو.

٥ـ آمر عمومی لوژ ستیك بحیث عضو .

٦ـآمر عمومی محابس وصناعتی بحیث عضو .

۷ـ آمر عمومی تخنیکی بحیــث عضو .

۸ـ آمر عمومی پاسپورت بحیــث عضو .

۹ـ آمر عمومی استخبا رات‌بحیث عضو .

۱۰ـ مدیر پیژند مرکزی بـد ون داشتن صفت عضویت بحیث منشی مجلس تادیب .

ماده هجدهم :

رسیدگی استینافی مویدات تا دیبی مجلس تادیب به‌مجلس عالی تادیب رویت داده میشو د.

**نولسمه ماده :**

د تادیب عالی مجلس مرکب دی له:

۱ ـ د کورنیو چارو وزیر د رئیس په حیث .

۲ـ د پولیس او ژاندارم عمومی قوماندان د نایب رئیس او غړی په حیث .

۳ ـ د امنیت عمومی آمر د غړی په حیث .

**شلمه ماده :**

دتادیب په مجلس کی د شاملو پولیسانو د تادیب مجلس او د تادیب د عالی مجلس) او دپولیس او ژاندارم د استخدام ، ترفیع او تقاعد د قانون د اتمی مادی د حکم د لمړی ردیف د مندرجو منسوبینو په وظیفوی تخلفاتو غور د تادیبی مویداتو د عالی شوری له خوا صورت مومی پدی هکله د عالی شوری تصمیم نهایی او دتنفیذ وړ دی .

**یوویشتمه ماده :**

دتادیبی مویداتو عالی شوری مرکبه ده له:

۱ ـ دکورنیو چارو وزیر درئیس په حیث .

۲ ـ د کورنیو چارو د وزارت معین دغړی په حیث .

**ماده نزدهم :**

مجلس عالی تادیب مرکب است از :

۱ـ وزیر داخله بحیث رئیس .

۲ـ قوماندان عمومی پولیس و ژاندارم به حیث نایب رئیس وعضو.

۳ـ آمر عمومی امنیت بحیث عضو .

**ماده بیستم :**

رسیدگی به تخلفات وظیفوی پولیسان مشمول مجلسین تادیب (مجلس تادیب ومجلس عالی تادیب) ومنسوبین ردیف اول مندرج حکم ماده (۸) قانون استخدام، ترفیع وتقاعد پولیس وژاندارم از طرف شورای عالی مویدات تادیبی صورت میگیرد تصمیم شورای عالی در مورد نهائی وواجب التنفیذ میباشد .

**ماده بیست ویکم :**

شورای عالی مویدات تادیبی مرکب است از :

۱ـ وزیر داخله بحیث رئیس .

۲ـ معین داخله بحیث عضو .

۳ ـ د لوی څارنوال مرستیال د غړی په حیث .

د دغو دواړو مجلسونو نه د هر یوه نصاب دوه ثلثه دی.

**دوه ویشتمه ماده**

دوظیفوی تخلف د تحقیق ډول او د متخلف حقوق :

۱ ـ آمران مکلف دی چه دلاس لاندی همکارانو د وظیفوی تخلف د لیدلو یا له هغه څخه د خبریدلو په صورت کی لازمه غور وکاندی.

۲ـ دپولیس وظیفوی تخلف د آمر په تصمیم او د جرم شدت ته په کتنه دیوه شخص یا د تحقیق دهیات له خوا چه غړی ئی دمحل دقوماندان په امر یاد پولیسود عمومی آمرینو له لوری ټاکل کیږی د تحقیق لاندی راځی .

۳ ـ د توصیبی ـ لیکلی اخطار او لیکلی توبیخ مستوجب وظیفوی تخلفات د تحقیق غوښتنه نه کوی .

**دروېشتمه ماده**

د تحقیق د هیات غړی باید د لاندنیو شرطونو لرونکی وی :

۱ـ د متخلف همرتبه یائی رتبه له متخلف څخه لوړه وی .

۲ ـ د تحقیق د هیات تر منځ دی د همکاری ارتباط یا تر دریمی درجی سببی او نسبی خپلوی موجوده نه وی .

۳ـ مرستیال لوی څارنوال بحیث عضو .

نصاب هر یك از مجلسین دوثلث است .

**ماده بیست و دوم**

طرز تحقیق تخلف وظیفوی وحقوق متخلف .

۱ـ آمران مکلف اند در صورت مشاهده یا کسب اطلاع از تخلف وظیفوی همکاران تحت اثر رسیدگی لازمه نمایند .

۲ـ تخلف وظیفوی پولیس به تصمیم امر ونظربه شدت تخلف از طرف یکنفر یایك هیئات تحقیق که اعضای آن به امر قوماندان محل یا آمرین عمومی پولیس تعین میگردد تحت تحقیق قرار میگیرد .

۳ـ تخلفات وظیفوی مستوجب توصیه ،اخطار تحریری وتوبیخ تحریری ایجاب تحقیق را نمی نماید

**ماده بیستو سوم :**

اعضای هئیات تحقیق باید واجد شرایط آتی باشند .

۱ـ همرتبه متخلف ویا رتبهٔ آنها از متخلف بلند تر باشد .

۲ـ بین هیئات تحقیق ومتخلف ارتباط همکاری ـقرابت سببی و نسبی تادرجه سوم موجودنباشد .

۳ ـ د غور لاندی وظیفوی تخلف دتحقیق دهیات پـه غـړی پو ری تړلی نه وی .

**څلرویشتمه ماده :**

د تحقیق هیئات په خپل راپورکی د تخلف ډول او د هغه د شدت او خفت درجه ټاکی .

که چیری محاکماتی بڼه ولـر ی له هغی نه هم یادونه کوی .

**پنځه ویشتمه ماده :**

که چیری د پولیسس آمرین پـه تخلف باندی غور له خپل واك نه دباندی تشخیص کاندی، د تحقیق راپور د خپلی نظرئی سره یو ځا ی د تادیب مجلس ته لیږی .

**شپږ ویشتمه ماده :**

پولیسس حق لری چه د تادیبی تحقیق او غور په وخت کی له خپل ځان څخه په خپله دفاع وکړی . او یا د پولیسو د قواء څخه کوم غړی پدی مقصد مدافع وکیل وټاکی .

**اوه ویشتمه ماده :**

پولیسس او دهغه مدافع وکیـــل حق لری چه تادیبی جلسی تـه د حضور نه د مخه له هغو اسنادو او شواهدو څخه ځان خبر کړی چـه د هغه د تادیبی مسئو لیت دلیـــل ګڼل شوی وی .

۳ـ تخلف وظیفوی مورد بررسی به عضو هئیات‌تحقیق مرتبط نباشد.

**ماده بیست وچهارم:**

هیئات تحقیق در راپور خـود نو ع تخلف ،درجه شدت وخفت‌آنراتعیین مینماید .

هر گاه صبغه محاکما تی دا شته باشد از آن نیز تذکر میدهد .

**ماده بیست وپنجم :**

در صور تیکه آمرین پـــو لیسس رسیدگی به تخلف را خارج‌صلاحیت خود تشخیص دهدراپور تحقیق رابا نظر خود به مجلس تادیب ارسا ل مینمایند .

**ماده بیست وششم :**

پولیس حق دارد حین تحقـیق و رسیدگی تادیبی ازخود شخصیا د فاع نماید ویاعضوی ازقوای‌پولیس‌رابااین منظور وکیل مدافع تعین کند.

**ماده بیست وهفتم :**

پولیس ووکیل مدافع او حق‌دارند قبل از حضور در جلسه تـادیبـی از اسناد وشواهد که دلیل‌مسئولیت تادیبی او شنا خته شده اطـــلا ع حاصل نمایند .

**اته ویشتمه ماده :**

د تادیب مجلس په متخلف باندی د دغو مقرراتو د لسمی مادی د الف د فقری د شپږم ، اوم ، اتم نهم ، لسم، یولسم او دولسم جز د مندرجو مؤیداتو له جملی نه یو یادوه مؤیدات، د متخلف د مسئولیت ، د تخلف د شدت ، د متخلف د شخصی او ذهنی احوالو او اداری غوښتنو په نظر کی نیولو سره ، وضع کوی .

**نه ویشتمه ماده**

د تادیب د مجلس د غړو د نه منلو **موارد.**

۱ ــ په هغه مورد کی چه د تادیب د دواړو مجلسونو د غړو څخه کوم غړی د متخلف سره تر دریمی درجی پوری سببی یا نسبی اړیکه ولری .

۲ ــ په هغه مورد کی چه متخلف د مجلس کوم غړی په معقولو دلایلو سره د خپل ځان مخالف څرګند کاندی .

**دیرشمه ماده :**

د تادیب د مجلس تصمیم د تحقیق د پاڼو له مطالعی او د متخلف او شاهدانو د بیاناتو له اوریدو وروسته د دغو مقرراتو د ۳۱ مادی د مندرجو مراتبو سره سم نیول کیږی .

**یو دیرشمه ماده :**

په تخلف باندی غور او د تادیب د اجراآتو ترتیب :

**ماده بیست وهشتم :**

مجلسین تادیب بر متخلف یك یا دو مویده را از جمله مویدات مندرج جز ۶ـ۷ـ۸ ـ ۹ ـ ۱۰ ـ ۱۱ و۱۲ فقره الف ماده دهم این مقررات بادر نظر داشت درجه مسئولیت، شدت تخلف، احوال شخصی وذهنی متخلف وایجابات اداری پولیس وضع می نمایند.

**ماده بیست ونهم :**

موارد رد اعضای مجلس تادیب:

۱ـ درموردی که عضواز اعضای مجلسین تادیب با متخلف رابطه سببی یانسبی تا درجه سوم داشته باشد.

۲ـ در موردی که متخلف بدلائل معقول عضوی از مجلس را طرف وانمود کند .

**ماده سی ام:**

تصمیم مجلس تادیب بعد مطالعه اوراق تحقیق واستماع اظهارات متخلف وشهود مطابق به مراتب مندرج ماده (۳۱) این مقررات اتخاذ میگردد.

**ماده سی ویکم :**

رسیدگی به تخلف وترتیب اجراآت تادیب :

په هغه صورت کی چه د تادیب د مجلس تصمیم د دغو مقرراتو د لسمی مادی د الف د فقری د اوم اتم ، نهم ، لسم ، یولسم او دولسم جزء د مندرجو دیوی یادوو مؤیداتو په تطبیق دایروی ، په هغه حال کی لاندی اجراآت پرځای کیږی :

۱ ـ د غور موضوع او د تادیب دجلسی نیټه د منشی له خوا په لیکلی ډول مربوط شخص ته خبر ورکول کیږی .

۲ ـ رئیس د تادیبی غور دجلسی پرانستل اعلانوی . منشی د تخلف ډول او د تحقیق د هیئت ترتیب شوی راپور د شخص یاد مدافع وکیل په حضورکی لولی او موجود اسناد او مدارك مجلس ته وړاندی کوی .

۳ ـ که چیری شاهدان موجود وی په وار رابلل کیږی . متخلف او د هغه مدافع وکیل حق لری چه له شاهدانو څخه پوښتنی وکړی .

۴ ـ متخلف حق لری چه خپل درد دلایل او اعترا ضیه یو یو مجلس ته وړاندی کړی .

۵ـ دتادیبی جلسی جریان د منشی له خوا په مربوط محضر کی لیکل کیږی .

۶ـ دغور د جلسی په پای کی

در صور تیکه تصمیم مجلس تادیب دایر به تطبیق یك یا دو مویده ازموئدات مندرج جز ۷ـ۸ـ۹ـ۱۰ـ۱۱و۱۲ فقره الف ماده دهم این مقررات باشد در آنصورت اجراآت آتی بعمل می آید :

۱ـ موضوع رسیدگی وتاریخ جلسه تادیب از طرف منشی کتبا باطلاع شخص مربوط رسانیده میشود.

۲ـ رئیس افتتاح جلسه رسیدگی تادیبی را اعلان مینماید منشی نوع تخلف وراپور مرتبه هیئات تحقیق را در حضور شخص یاو کیل مدافع قرائت نموده واسنا دومدارك موجوده رابه مجلس ارائه میدارند .

۳ـ هر گاه شهودی موجود باشند باالنوبه دعوت میگردند . متخلف ووکیل مدافع او حق دارند ازشهود سوالاتی بنما یند .

۴ـ متخلف حق دارد دلایل رد و اعتراضیه خود را یکایك به مجلس ارائه نماید .

۵ـ جریان جلسه تادیبی از طرف منشی درمحضر مربوطه بقید تحریر درآورده میشود .

۶ـ درختم جلسه رسیدگی به

مربوط شخص ته یو ځل بیا د خبرو کولو حق ورکول کیږی .

د پورتنیو یاد شویو اجرا آتو په پای کی په تخلف باندی د غور مرحله پای ته رسیږی ، او د تادیب مجلس له مشوری وروسته خپل تصمیم نیسی او ابلا غوی یی .

**دو دیرشمه ماده :**

د دغو مقرراتو د مندرجو مویداتو په تطبیق کی دیره سپکه ئی مراعات کیږی ، مؤیده متناسبه وی ، د تخلف سپکوالی او د ارتکاب حالات او شرایط په نظر کی نیول کیږی .

**دری دیر شمه ماده :**

د تادیب مجلس د تادیبی غور په پای کی د لاندی تصمیمو نو څخه یو نیسی .

۱ ــ دمتخلف په خلاصون تصمیم په هغه صورت کی چه د هغه تادیبی مسئو لیت تثبیت نشی .

۲ ــ په متخلف د یوی یا دوه تادیبی مؤیدو د تطبیق په بنا تصمیم .

**۳ــ دمحل قو ماندانی ته ددوسیی دار جاع په بنا تصمیم ، په هغه صورت کی چه تشخیص شی.**

د مؤیدی تطبیق د دغو مقررا تو د(۱۵) مادی دمندرج حکم سره سم د آمرینو په واك کی دی .

شخص مربوطه یك بار دیگر مو قع صحبت داده میشود .

در ختم اجرا آت متذ کره فوق مرحله رسیدگی به تخلف بانجام می رسد ومجلس تادیب بعد از مشوره تصمیم خود را اتخاذ وابلاغ میدارد

**ماده سی ودوم :**

در تطبیق مویدات تادیبی مندرج این مقررات اخف آن رعایت گردیده و تناسب موید ه باشدت و خفت تخلف وحالات وشرایط ارتکاب مدنظر گرفته میشود .

**ماده سی وسوم :**

مجلس تادیب در ختم رسیدگی تادیبی یکی از تصامیم ذیل را اتخاذ مینماید.

**۱ــ تصمیم مبنی بر برائت متخلف درصور تیکه مسوولیت تادیبی اوتثبیت نگردد.**

**۲ــ تصمیم مبنی بر تطبیق یك یاد دو مویده تادیبی بر متخلف.**

۳ــ تصمیم مبنی بر ارجاع دوسیه بقو ماندانی محل در صور تیکه تشخیص داده شود .

**تطبیق مو یده مطابق به حکم مندرج ماده (۱۵) این مقررات از صلاحیت آمرین میباشد .**

٤ – د پولیسواختصا صي محکمې ته د دوسیي د احاله‌کولو په بنـــا تصمیم .

دغه تصمیـم ددې مادې ددوهمــې فقرې د مندرج تصمیم سره یو ځای نیول کیدلای شي .

**خلور دیرشمه ماده :**

د دغو مقرراتو د لسمې مـا دې د الف د فقرې د لسم ، یولسم ، او دولسم جزء د حکم د مندرجـــو مؤیداتو د ټاکلو په بنا د تا دیب د مجلس تصمیم نشي نیول کیدلای مگر دا چه د تادیب د مجلس غړو د رایو په اتفاق نیولی وي .

**پنځه دیرشمه ماده :**

ددغو مقر راتو په ۲٤ ماده کـــې مندرج طرز العمل د تادیب د عالــې مجلس په هکله هم رعایت کیږي .

**شپږ دیر شمه ماده :**

د تادیب د مجلس تصمیم پـــه فورمه کې ثبت او د رئیس او غړو لاسلیك وربانڈې اخستل کیږي د مجلس منشي مکلف‌دی چه نوموړې فورمه په نښه او لاسلیك کاند ي همدا شان منشي مکلف دی چـه د ابلاغ پانه ترتیب او په مربوطستون کې دمتخلف استحضا ریت صورت حاصل کاندې .

د فورمې او د ابلاغ د پاڼې نمونه د لایحې په واسطه توضیح کیږي .

٤ـ تصمیم مبنی بر احاله دوسیهٔ بهٔ محکمه اختصا صی پولیس .

این تصمیم توام باتصمیم مندرج فقره (۲) همین ماده اتخاذ شده می تواند.

**ماده سی‌و چارم :**

تصمیم مجلس تادیب مبنی بــر تعیین موپدات مندرج حکم جز ۱۰ـ ۱۱ و۱۲ فقره الف ماده دهم ایـــن مقررات اتخاذ شده‌نمیتواند مگرآنکه مجلس تادیب آنرا به اتـفاق آرای اعضا اتخاذ کرده باشد.

**ماده سی وپنجم :**

طرزالعمل مندرج ماده (۳٤) این مقررات در مورد مجلس عالی‌تادیب نیز رعایت میگردد .

**ماده سی وششم :**

تصمیم مجلس تادیب در فور مه درج ودرآن امضای رئیس واعضـا گرفته میشود. منشی مجلس مکلف است فورمه مذکور را نشانی وامضا نماید همچنان منشی مکلف اسـت ورقه ابلاغ را تر تیب ودر ستـو ن مربوطه صورت‌استحضاریت متخلف را حاصل نماید.

نمونه فورمه وورقه ابلاغ توسـط لایحه توضیح میگردد .

**اوه دیر شمه ماده :**

د تادیبی مؤیدی د تطبیق په بنا د آمرینو او د تادیب د مجلس تصمیم په لاندی واردو کی نهائی دی .

(۱) په هغه مورد کی چه متخلف په نیول شوی تصمیم قناعت ولری

(۲) ــ په هغه مورد کی چه د استیناف غوښتلو قانونی موده تیره شوی وی .

۳ ــ په هغه مورد کی چه مؤیده د دغو مقرراتو د لسمی مادی دالف د فقری د لمړی ، دوهم ، دریم ، څلورم او پنځم جزء د مندرج حکم له ډوله څخه وی .

**اته دریر شمه ماده :**

متخلف کولای شی چه د دغو مقرراتو د لسمی مادی د الف د فقری د اوم ، اتم ، نهم ، لسم یولسم ، او دولسم جزء د حکم د مندرجو مؤیدو د تطبیق په هکله د تادیب عالی مجلس ته په استیناف لاس پوری کړی .

د تادیب د مجلس په تصمیم اعتراض د مرکزی پیژند دفتر ته د غوښتن لیك په واسطه صورت مومی .

**نه دریر شمه ماده :**

د تادیب عالی مجلس د استیناف

**ماده سی وهفتم :**

تصامیم آمرین ومجلس تادیب مبنی بر تطبیق مویده تادیبی در موارد آتی نهائی است .

۱ــ در مورد یکه متخلف به تصمیم اتخاذ شده قناعت داشته باشد .

۲ــدر موردیکه مدت قانونی استیناف خواهی منقضی گردیده باشد .

۳ــ در مورد یکه مویده از نوع مندرج حکم جز ۱ــ۲ــ۳ــ ٤ــ۵فقره الف ماده دهم این مقررات باشد.

**ماده سی وهشتم :**

متخلف میتواند در مورد تطبیق مویدات مندرج حکم جز ۷ــ۸ــ۹ــ ۱۰ــ۱۱ــو۱۲ فقره الف ماده دهم این مقررات بهمجلس عالی تادیب به استیناف بپردازد .

اعتراض بر تصمیم مجلس تادیب توسط استدعا بدفتر پیژند مرکزی صورت میگیرد .این استدعا باید در خلال مدت ده روز از تاریخ تصمیم حضوری بر متخلف تقدیم گردد .

**ماده سی ونهم :**

مجلس عالی تادیب در مورد

د غوښتنې په هکله لاندې تصميمونه نيسي .

۱ـ دمتخلف پر برائـت تصميم په هغه صورت کې چه تاديبـــي مسئوليت ونه لري .

۲ ـ دمستانف په هکله د مؤيدي د کمښت ، زياتوالي او سختوا لي په بنا تصميم . په هـر صـــورت مستا نف ته د تاديب د عالي مجلس د تصميم نيول او ابلاغ په لســـ ورځو کې د ننه اعلاميږي .

## پنځم فصل

### خواره واره حکمو نه

### څلو ېښتمه ماده :

ددغو مقر راتو احکام هغه شمير تخلفاتو پــوري مختص دي چــه د وظيفې پــه جـريان کـــې يـــا د وظيفې د اجراء په علت ارتکا بيږي د پوليس د وظيفې څخه د باندې تخلفات چه د قانون په حکم جـــرم ګڼل شوي وي د جزايي قوانينو د احکامو سره سم تر غور لانـد ي نيول کيږي .

همدا شان لدي تخلفاتو څـــخه راولاړه شوي حق العبدي د عـــوي د مربوطو قوانينو د احکامو ســـره سمه تر غور لاندي نيول کيږي .

### يو څلو ېښتمه ماده :

د عذر موجوديت په لاندنيو حالاتو کې موجه ګڼل کيږي .

استدعاى استيناف تصا ميم آتى را اتخاذ مينما يد :

۱ـتصميم مبنى بربرائت متخلف در صور تيکه مسئوليت تاديبـــي نداشته باشد .

۲ـ تصميم مبنى بر تخفيف، تزئيد وتشديد مويده درمورد مستانف بهر صورت اتخاذ وابلاغ تصميم مجلس عالى تاديب به مستانف در ظرف ده روز اعلام ميگردد .

## فصل پنجم

### احكام متفر قه

### ماده چهلم:

احکام اين مقررات مختص به آنعده از تخلفاتي ميبا شد که در جر يان وظيفه ويا بعلت اجراى آن ارتکـاب مي يابد تخلفات خارج وظيفه پوليس که بحکم قانون جرم شنا خته شـــده باشد مطا بق به احکام قوانين جزائى مورد رسيدگى قرار ميگيرد .

همچنان ادعاى حق العبدى ناشي ازين تخلفات مطابق به احکام قوا نين مربوط مورد رسيد گى قرار ميگيرد.

### ماده چهل ويکم:

موجود يت عذر در حالات آتـــي موجه پنداشته ميشود :

۱ ـ په هغه حالت کی چه د احضار پاڼه متخلف ته نه وی رسیدلی یا پس له ځنډه رسیدلی وی پداسی ډول چه په ټاکلی وخت د هغه دحضور مخه ونیسی .

۲ ـ د هغی ناروغی په حال کی چه د خوځیدو مخه ونیسی .

۳ـ دوالدینو ـ میړه ـ ماندینی او اولاد د مړینی یاد یاد شویو کسانو د سختی ناروغی په حال

۴ـ دغیر مترقبه حادثاتو لکه د اور لگیدل ـ ساری مرضونو ـ د سیند د هغو ځپو وهلوپه صورت کی چه لاره بنده کړی .

۵ ـ د توقیف یا حبس په حال

**دوځلو پنځمه ماده :**

دمحل دپو لیسو ـ دپولیس او ژاندارم د عمومی قوماندان او د داخله وزیر په مربوطو دفترونو کی د تادیبی مویداتو د درجولو په منظور یو کتاب ساتل کیږی چه د دفتر د آمر له خوا واجب التنفیذ مؤیدات په هغه کی ثبتیږی .

دکتاب نمونه د لایحی په واسطه تثبیتیږی .

**دری ځلو پنځمه ماده :**

د کورنیو چارو وزارت د دغو مقرراتو د احکامو د ښه تعمیل په مقصد لایحه وضع کوی .

۱ـ در حالتی که احضار نامه به متخلف نرسیده یا دیر رسیده باشد بقسمی که مانع حضوراودروقت مقرر شود.

۲ـ در حالت مریضی که مانع حرکت باشد .

۳ـ در حالت فوت یکی از والدین زوج، زوجه، اولادو یا مرض سخت یکی از اشخاص مذکور .

۴ـدر حالت حادثات غیر مترقبه چون حریق ،امراض ساری ـطغیان رود خانه که موجب بندش راه گردد.

۵ـ در حال توقیف یا حبس بودن.

**ماده چهل ودوم:**

در دفاتر مربوط پولیس محل، قوماندان عمومی پولیس وژاندارم و وزیر داخله کتابی بمنظور درج مویدات تادیبی نگهداشته میشودکه از طرف آمر دفتر مویدات واجب التنفیذ در آن ثبت میگردد .

نمونه کتاب توسط لایحه تثبیت میگردد .

**ماده چهل وسوم:**

وزارت داخله بمنظور تعمیل بهتر احکام مندرج این مقررات لایحه وضع می نماید .

# رسمی جریده

**خلور څلویښتمه ماده :**

دغه مقررات په رسمی جــریده کی له خپریدو یوه میاشت وروسته نا فذیږی او د انفاذ سره یی هغه وظیفوی تخلفات چه پخوا ارتکا ب شوی او د نافذیدو تر نیټی ئــی د تحقیق په مرحله کی قرار لری ، د دغو مقرراتو د احکامو سره سم ورباندی غور کیږی .

**که چیری ددغو مقر ر اتو لــه احکامو نه کوم حکم دنورو مقر راتو د احکامو نه دکوم حکم سره متناقص وی د دغو مقرراتو حکم پر ځــا ی کیږی .**

**ماده چهل وچارم :**

این مقررات **یك ماه بعداز نشرآن** در جریده رسمی نافذ میگردد وبــا انفاذآن تخلفات وظیفوی که قبــلا ارتکاب یافته وتا تاریخ نفاذ آن د ر مرحله تحقیق قرار دارند مطا بــق به‌احکام این مقررات مورد رسیدگی قرار میگیرد .

هرگاه حکمی از احکام این مقر رات باحکمی از احکام مقر رات دیگــر متناقض باشد حکم این‌مقررات‌تطبیق میگردد.

دامتیاز خاوند : دعدل وزارت

مسئول مدیر: محمد داؤد (قیوم)

مسلکی غړی : نوریه (بشیر)
عبدالحبیب (امین)

دتیلفون نمبر : ۲۲۲۱۳

پته: دعدل وزارت کابل، افغانستان

THE REPUBLIC OF AFGHANISTAN

# OFFICIAL GAZETTE

Issue No. 269

Date: April 20, 1974

Kabul, Afghanistan
Address: Ministry of Justice

**Editor: Mohammad Daoud Qayuem**

تاریخ: شنبه ۳۱ حمل ۱۳۵۳

تعداد طبع (۱۵۰۰) نسخه

دولتی مطبعه